# د اسلامي نظام پر وړاندې د بغاوت حکمونه

پوهنيار خالد افغان، فقه او قانون څانګه، شرعياتو پوهنځی، سيدجمال الدين افغاني پوهنتون

**لنډيز**

دا يوه کتابتوني څېړنه ده، چې د اسلامي نظام پر وړاندې پکې د بغاوت حکمونه روښانه شوي دي، په اوسني وخت کې دا موضوع خورا ارزښت له دې امله لري چې پر بنسټ يې اسلامي نظام برقرار پاتې کيږي، د څېړنې د تګلارې له مخې دا يوه توصيفي تحليلي څېړنه ده چې موخه يې د اسلامي نظام پرخلاف د بغاوت حکمونه روښانه کول دي. د بغاوت کونکو اړوند يوشمېر حکمونه شتون لري چې په ټوله کې عبارت دي: له جنګ څخه د مخه د بغاوت کونکو حقوق او مسؤليتونه، له جګړې وروسته د باغيانو حقوق، دباغيانو سره د قتال د جواز شرطونه، له باغيانو سره جګړه او سوله، هغه باغيان چې وژل يې روا نه دي، د کومو وسايلو په وسيله د باغيانو وژل روا دي، هغه مهال چې د باغيانو شمېر کم وي، د باغيانو څخه نيول شوي کسان او له دوی سره په جنګ کې د تعامل څرنګوالې، د باغيانو ګواهي ورکول په اسلامي محکمو کې او د باغي د وينې هدر والې څخه.

**کليدي کليمې**: باغيان، اسلامي نظام، مخالفت، قيام، جنګ.

**سريزه**

الحمدلله الذي قال فی کتـابه العظيم« وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ» والصلاة والسلام علی نبينـا محمد وعـلی آلـه وصحبـه وسلّم تسليما کثيراً الی يوم الدّين ، امّـابـعـد:

دا چې اسلامي شریعت یو کامل او د ژوند هر اړخ ته شامل دین دی، همدا لامل دی چې د ژوند په هره برخه کې یې موږ ته داسې لارښوونې کړې دي چې پر بنسټ یې د ټولنې څخه ستونزې ختمېږي او په بدل کې موږ ته هوسا ژوند په برخه کېږي، په همدې بنسټ یې د باغیانو په اړه داسې منع کوونکي حکمونه ایښې دي ترڅو ورسره د مسلمانانو قوت او یووالی په خپل ځای پاتې شي او د کفري نړۍ لاسونه ورلنډ کړي، له همدې امله په دې څېړنه کې د اسلامي نظام پر خلاف د بغاوت حکمونه ذکر کېږي، ترڅو لوستونکي ورڅخه ګټه پورته کړي.

د موضوع پېژندنه: په دغه څېړنه کې مې د بغاوت تعریف او همدارنګه د اسلامي نظام پر وړاندې د بغاوت حکمونه څېړلي دي ترڅو لوستونکي د بغاوت اړوند حکمونو څخه خبر شي او په مقابل کې یې اسلامي نظام برقرار پاتې شي.

د څېړنې ارزښت : داچې باغیان د اسلامي نظام پر وړاندې خنډ واقع کېږي او له دې سربېره یې پر بنسټ په ټولنه کې امن له منځه ځي او په مقابل کې یې ډار او ویره خپرېږي، له بل لوري اسلامي شریعت د دې ډول ناوړه جرمونو د مخنیوي په پار یو شمېر حکمونه ایښي دي چې ورسره د ډار فضاء په امن بدله شي، له همدې امله د بغاوت اړوند حکمونو روښانه کول له خورا ارزښتمنو موضوع ګانو څخه ده.

**د څېړنې پوښتنې**

ایا د اسلامي نظام پر وړاندې د بغاوت حکمونه شتون لري؟

څنګه کولې شو باغي وپېژنو؟

باغي کوم ډولونه لري؟

اسلامي نظام به د باغیانو پر وړاندې کوم دریځ غوره کوي؟

## د څېړنې ستونزه

څرنګه چې د هيواد په ټولو سيمو کې اسلامي نظام واکمن دی او په مقابل کې يې کفري نړۍ نه غواړي چې اسلامي نظام برقرار پاتې شي؛ نو تل هڅه کوي چې د دغه شوم هدف د ترلاسه کولو لپاره په داخل کې ځينې خلك د نظام پر ضد وپاروي او دې بغاوت ته شرعي او قانوني حق ورکړي، له همدې امله د دې ستونزې د حل په موخه دا څېړنه ترسره کيږي.

## د څېړنې موخې

لوستونکي به په دې وتوانيږي چې:

۱- د بغاوت اړوند حکمونه وپېژني.

۲- باغي وپېژني.

۲. د باغي مختلف ډولونه وپېژني

۳- د دوی په اړه د اسلامي نظام دريځ.

۴- د باغيانو پر وړاندې د اسلامي نظام دريځ به وپېژني.

## د موضوع مخينه

په ياده موضوع کې د څېړنې پرمهال داسې ليکنه زما تر سترګو نه شوه چې په هغې کې دې د اسلامي نظام پر خلاف د بغاوت حکمونه په پښتو ژبه روښانه شوی وي، بلکې يو شمېر يې عام او ځېنې په عربي ژبه وو چې زه يې د نمونې په ډول په لاندې توګه يادونه کوم:

الفقه الإسلامي وأدلته، د دکتور وهبة الزحيلي، په دې کتاب کې د فقهې اړوند عمومي معلومات راجمع شوي دي، او په يوه څنډه کې يې د بغاوت اړوند حکمونو ته ځای

ورکړل شوې دی، چې پکې د اسلامي نظام پر وړاندې بغاوت ناروا ګڼل شوې دی، او د دې ترڅنګ پکې د بغاوت اړوند ځینې حکمونه روښانه شوي دي(الزحيلي، (ب ت)،ج۷ص ۵۴۷۸).

احکام القران د جصاص، د دې تالیف په سورت حجرات نهم نمبر ایات کې د اسلامي نظام پر وړاندې د بغاوت اړوند یو شمېر حکمونو یادونه شوې ده، چې په کې د اسلامي نظام پر وړاندې بغاوت حرام بلل شوې دی، او پر وړاندې یې د اسلامي نظام سره څنګ په څنګ درېدل واجب ګڼل شوي دي(جصاص،۱۴۱۵هـ،ج۵ ص۲۷۹).

مګر زما په دې لیکنه کې د بغاوت اړوند ضروري حکمونه په پښتو ژبه لیکل شوي دي چې لوستونکو ته به ډېر ګټور تمام شي.

## د څېړنې تګلاره

ددې څېړنې میتود کتابتوني دی. ددې مقالې د لیکلو په لړ کې مې دا تګلاره غوره کړې چې د هرې مسئلې په اړه مې اول دقرآن کریم څخه دلیل راوړی او د ایت پښتو ژباړه مې د تفسیر کشاف څخه کړې ده، په دویم قدم کې مې نبوي احادیثو ته مراجعه کړې او د حدیث د ذکرکولو په صورت کې مې د حدیث ژباړه،مختصرتخریج اود صحیحینو احادیثو پرته نورو حدیثونو حکم هم ذکرکړې، د قرآن کریم او نبوي سنتو څخه وروسته د اسلامي فقهې معتمدو او معتبرو متونو ته مراجعه کړې او د مسئلې اړوند مې د هغوی نظریات راوړي دي

**مناقشه**

د دې مقالې د لیکلو په لړ کې مې دا تګلاره غوره کړې د هرې مسئلې په اړه مې اول دقرآن کریم څخه دلیل راوړی او د ایت پښتو ژباړه مې هم کړې ده، په دویم قدم کې مې نبوي احادیثو ته مراجعه کړې او د حدیث د ذکرکولو په صورت کې مې د حدیث ژباړه هم کړې، د قرآن کریم او نبوي سنتو څخه وروسته د اسلامي ادارې معتمدو او معتبرو متونو ته مراجعه کړې او د مسئلې اړوند مې د هغوی نظریات راوړي او د اړتیا په صورت کې مې راجح قول هم په نښه کړی، د لیکنې کړنلاره مې توصیفي تحلیلي میتود دی چې مواد یې له بېلا بېلو سرچینو څخه راټول او د لیک دود د اصولو په پام کې نیولو سره ترتیب شوي دي.

**د بغاوت حکمونه**

**لومړی : د باغي پېژندنه:**

د باغي لغوي معنا: بغاوت د باغ جمع ده او بغي د ظلم او تجاوز په معنا ده، دوی ته ځکه باغیان وایي چې دوی هم له حق څخه تجاوز کړی دی(الشر بیني،۱۴۰۵هـ ۱۲۳).

باغیان د فقهاو په اصطلاح هغه کسان دي چې د کوم مجوزه تاویل نه په استفادې د امام په ضد وپاریږي، د دولت د اعلی رئیس په ضد پورته شي او د خپلو موخو د پر مخ بیولو له پاره منظم تحریک او قدرت ولري(علي محمد، ۱۳۹۸هـ ۱۵۱).

**دویم: د بغي شرطونه**

د بغي شرطونه په لاندې توګه دي:

**الف: د بغي موخه**

په بغاوت کې دا شرط دی چې د باغیانو موخه به د دې دولت رئیس او یا نظام له پښو غورځول یا یې له اطاعت څخه سرغړونه او امتناع وي.

**ب: تأویل**

په بغاوت کې دا شرط دی چې باغیان به د خپل فعالیت لپاره تاویل لري، که څه هم هغه دلیل په خپل ذات کې کمزورې وي. لکه د علي رضي الله عنه په مقابل کې د خوارجو ادعا چې د عثمان رضي الله عنه د قتل په دسیسه کې شریک وو.

**ج: شوکت**

د باغیانو ځانګړی شرط دا دی چې د نورو ملګرو په ملاتړ د قوت او ځواک خاوندان وي او که د نورو ملګرو په ملاتړ یې قوت او شوکت نه درلود، سیاسي مجرمین یا باغیان نه ګڼل کیږي .

**د: جګړه او انقلاب**

تر دې وروسته شرط دی چې جرم دې د جنګ په داخل کې د هماغه موخې له پاره رامنځته شوی وي، د کوم له پاره چې انقلاب شروع شوی وي او که د جګړې په حالت کې نه وو واقع شوی؛ نو دا باغي نه بلکې یو عادي جرم دی او عادي جزا به ورکول کیږي(عوده، ۱۳۴۷هـ ۹۵-۹۴) .

**درېیم: باغي یعني د دولت پر ضد د قیام کوونکو ډلو مختلف ډولونه**

**الف:** هغه وګړي چې یوازې د فساد د لمنځه وړلو لپاره راپاڅېدلي وي او د خپل پاڅون لپاره ورسره هیڅ شرعي استدلال نه وي، د هغوی پر خلاف د نظام جګړه په اتفاق سره

روا ده او له نظام سره ملګرتيا پر مومنانو واجب ده، پرته له دې چې نظام عادل وي او که غير عادل وي.

**ب:** هغه وګړي چې د نظام د نسکورولو لپاره يې پاڅون کړی وي او هيڅ کوم شرعي دليل ورسره نه وي، بلکې د هغو ظاهري حالت دا څرګندوي چې هغوی ظالمان او فاسقان دي په دې صورت کې که نظام عادل وي؛ نو د نظام ملګرتيا کول بې له شکه واجب دي او که چېرته عادل نه وي، بيا هم د هغه نظام د ټينګښت لپاره جنګيدل واجب دي چې د هغه په واسيله په حاضر وخت کې د هېواد عمومي نظم ټينګ دی.

**ج:** هغه وګړي چې د کوم شرعي تاويل پر بنسټ يې د نظام پر ضد پاڅون کړی وي؛ خو د هغوی تاويل باطل او عقيده يې فاسده وي، لکه خوارج په دې کې هم د مسلمان حکومت- برابره خبره ده که عادل وي او که نه وي- ملتيا يې واجب ده.

**د:** هغه وګړي چې د يوه عادل نظام پر ضد پا څون وکړي، په دې صورت کې که له هغو سره کوم شرعي تاويل وي او که نه وي، په هرحال له هغو سره په جګړه کولو کې نظام په حقه دی او ملګرتيا کول يې واجب دي.

**هـ:** هغه وګړي چې د يو داسې ظالم نظام پر خلاف پاڅون وکړي چې د هغه امارت د زور له لارې مسلط شوی وي، حاکمان يې فاسق او پاڅون کوونکي يې د عدالت د راوستلو او الله جل جلاله د حدودو د پلي کولو لپاره راپاڅېدلي وي او د هغوی ظاهري حالت دا څرګندوي چې هغوی په خپله نيکان خلك دي(مودودي،۱۳۶۷، ۱۰۳). په دې صورت کې د هغوی په باغي ګڼلو او د هغوی پر ضد د جګړې په واجب کېدو کې د فقهاوو ترمېنځ اختلاف دی چې موږ يې دلته په لنډه توګه بيانوو:

د جمهورو علماوو رايه دا ده د کوم امير امارت چې يو ځل برقرار شوی وي او د هېواد امن او نظم د هغه تر انتظام لاندې چليږي، هغه که ظالم او د هغه امارت که په هر ډول

قایم شوی وي، پر خلاف یې پاڅون کول حرام دي، مګر دا چې د صریح کفر مرتکب شي، امام نووي رحمه الله د مسلم په شرحه کې وایې: د مسلمانانو مشر په خلاف پاڅون کول حرام دي، که هغوی فاسقان اوظالمان هم وي(نووي،۱۳۹۲هـ ج۱۲ ص۲۳۶).

د اسلامي فقهاوو بله ډله چې په هغې کې ځینې عالمان شامل دي ، پاڅون کوونکي صرف هغه مهال باغیان ګڼي چې کله هغو د عادل پاچا په خلاف پاڅون وکړي، د ظالمانو او فاسقانو په خلاف د صالحانو پاڅون هغوی د قران مجید له اصطلاح سره سم د بغاوت مصداق نه ګڼي، ابن الهمام رحمه الله د هدایه په شرحه فتح القدیر کې لیکلی چې د فقهاوو په عرف کې باغي هغه دی چې د برحق امام له اطاعت څخه ووزي(ابن الهمام، (ب ت)، ج۶ ص۹۹). قاضي ابوبکر ابن العربي رحمه الله په احکام القران کې د هغه دا وینا نقل کوي که یو څوک د عمر ابن عبدالعزیز رحمه الله په څېر عادل خلیفه پر خلاف پاڅون وکړي؛ نو د هغه مخنیوې واجب دی، پاتې شو کوم بل زمامدار؛ نو هغه په خپل حال پریږدئ الله تعالی به ورته د بل ظالم په لاس جزا ورکړي(جصاص، ۱۴۱۵هـ ج۲ص ۵۱۱).

**راجحه قول**

دلیلونه ته په کتو سره د جمهورو فقهاوو قول له دې امله راجحه دی، چې نبي علیه السلام د ټولنې وګړي د امام پر اطاعت ترهغه مکلف ګرځولې دي، ترڅو یې ورنه ښکاره کفر نه وي لیدلې، نبي علیه السلام فرمایې:(... وأن لا ننازع الأمر أهله إلّا أن تروا کفرا بواحا) ژباړه: - دنبي علیه السلام سره مو بیعت په دې وکړو...- او دا چې موږ به د مسوولو چارواکو سره جګړه نه کوو، مګر هغه مهال چې ښکاره کفر ورڅخه ووینو.

**څلورم : د باغيانو حقوق او شرعي احکام**

**۱. له جنګ د مخه د باغيانو حقوق او مسؤليتونه**

دا د باغيانو حق دی چې د روغې او مصالحې له لارې خپله مطالبه دولت ته وړاندې کړي او د شريعت په دايره کې چې کومه مطالبه لري، هغه په پوره ازادۍ او صراحت سره ووايي. د دوی مخالفه ډله يعنې عادلين بايد دوی ته ځواب ووايي ، قناعت ورکړي او د دوی د نظر يوه نيمګړتيا ورڅرګنده کړي، باغيان په ټولنه کې د ژوند کولو حق لري. که کوم معين ځای ونيسي، يا په کوم ځانګړي ځای کې غونډه وکړي، کولای يې شي او هيڅوک يې د منعه کولو حق تر هغه نه لري چې د واکمن نظام له اطاعت نه يې د وتلو اعلان نه وي کړی، دا د خوارجو په مقابل کې دعلي رضي الله عنه پاليسي هم وه. امام مالك او امام شافعي رحمهما الله له باغيانو سره د مقاتلې يو شرط دا ښودلی چې ترهغې پورې د دوی له خوا نه عادلان نه وي وژل شوي، تر هغې پورې دوی بايد ونه وژل شي او که دوی د وينو په تويولو لاس پورې کړ؛ نو د دوی وژل بيا مباح دي. امام ابو حنيفه رحمه الله د دوی د جګړې له پاره يوازې د دوی امتناع او اجتماع پوره بولي(ابن الهمام،ب ت) ،ج۷ص۳۰۱) او هغه شرط چې امام مالك او امام شافعي رحمهما الله يې د دوی د جګړې له پاره اړين بولي، دا يې ضروري نه ګڼي(عوده، ۱۳۴۷هـ ۹۷).

**۲. له جنګ وروسته د باغيانو حقوق**

که له باغيانو سره د جګړې، اور لګېدنې او يا په هېواد کې د دوی له خوا انقلاب پيل شو؛ نو د اسلامي نظام په مشرانو لازمه ده چې له هماغو کسانو سره جګړې ته دوام ورکړي، څوك يې چې مخې ته ودرېږي او که ماته يې وخوړه او په شا شول؛ نو د اسلامي نظام مشران يې هم بايد له جګړې او وژلو څخه لاس واخلي. د دوی ژوبل کسان او بنديان بايد ونه وژني او هغه کسان چې وسله کېږدي په هغوی بايد وسله ونه کاروي

او د مرګ هڅه یې ونه کړي. د دوی مال او متاع دې نه تالا کوي، ښځې او ماشومان دې تر استبداد لاندې نه نیسي، که جنګ پای ته ورسېد؛ نو د دوی هغه مالونه چې په جګړه کې لاسته ورغلي دي، هغه باید دوی ته بېرته وسپاري او چا چې د جګړې له میدان څخه بهر د دوی مالونه تلف کړی وي، په هغو باندې یې ضمان لازم دی، مګر هغه مالونه چې د جګړې په میدان کې تلف شوي دي، هغه هدر دي او که دوی د اهل عدل مال او متاع د جګړې له میدان نه بهر تلف کړی وي؛ نو په دوی باندې یې جبران لازم دی چې همدا راجحه رایه ده، که څه هم باغیان د جنګ د تاوانونو او تلفاتو مسؤل نه دي، مګر مشران کولای شي، چې دوی ونه بخښي او د بغاوت او انقلاب تعزیري جزا ورکړي(عوده، ۱۳۴۷هـ ۹۸).

### ۳. د باغیانو سره د قتال د جواز شرطونه

کله چې باغیانو نصیحت نه قبلولو او نه یې د امیر اطاعت ته رجوع کوله او نه یې د توبې غوښتنه قبوله کړه؛ نو که چېرته د امام په ولکه کې وي، یا یې په داسې ځای کې ولیدل چې هلته وژل کېدل؛ نو د دې کسانو قتل واجب دی، په دې شرط چې دوی په هغه څه باندې تعارض کړی وي چې اسلام حرام ګرځولي وي، یا د دې په وجه له مشرکینو سره جهاد ځنډیږي، یا له بیت المال څخه داسې شی واخلي چې د دوی حق نه وي او یا هغه څه چې په دوی باندې واجب دي د هغه ورکړه او د هغې له ورکړی څخه انکار وکړي او یا له امام څخه د جدایي تظاهر وکړي(ابن عابدین، ۱۴۲۱هـ ۳۱۰)، ماوردي رحمه الله ویلی دي: که چېرته د دوی شر په خبره او نصیحت سره دفع کیږي؛ نو بهتره ده چې نصیحت ورته وشي او که په نصیحت باندې نه کېدل؛ نو قتل یې واجب دی(الشافع الصغیر،۱۴۰۴، ۳۸۳).

### ۴. د باغیانو سره جنګ او سوله

### الف : د باغیانو سره جنګ

له باغیانو سره جنګ دا معنا نه لري چې د هغوی پر ضد دې وسله وال جنګ وشي او هغوی دې هرومرو ووژل شي، بلکې له دېنه دا مراد دي چې د هغوی پر خلاف دې زور استعمال شي. همدارنګه اصلي موخه د هغوی د تېري مخنیوی دی. د دې موخې له پاره چې د هر ډول ځواک کارولو ته اړتیا وي، هغه باید په کار واچول شي او د دغه حکم مخاطبان هغه کسان دي چې د زور په کارولو سره د تیري په مخنیوي باندې توانمند وي(مودودي،۱۳۶۷، ۱۰۰).

### ب: د باغیانو سره سوله

هغه مهال چې د باغیانو سره د سولې له لارې ستونزه حل کېدای شي او یاده سوله پر انصاف ولاړه وي، په دې صورت کې باید د همدې طریقې څخه کار واخېستل شي چې ستونزه حل او د مسلمانانو ترمېنځ اتفاق راشي(مودودي،۱۳۶۷، ۱۰۰).

په دې اړه الله عزوجل فرمایې: {وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا} (الحجرات ۹ ایت).

ژباړه: اوکله چې مومنانو څخه دوه ډلې پخپلو مینځو کې په جنګ شي نو د هغو په مینځ کې صلح وکړئ.

### ۵. له باغیانو څخه هغه څوک چې وژل یې جایز نه دي

د فقهاوو په اتفاق هغه څوک چې له جنګیالیو څخه یې وژل ناروا وي (ښځې، بوډاګان، ماشومان او ړانده) له باغیانو څخه یې هم وژل جواز نه لري؛ ځکه د دوی وژل د شر دفع

کولو لپاره وي، له دې آمله په هغو کسانو پورې وژل ځانګړې شول چې په جنګ کې یې ونډه اخیستې وي او ذکر شوی ډلې د جنګ نه دي؛ ځکه دوی په جنګ کې برخه نه اخلي(شیرازي،(ب ت)، ۲۳۲).

او که چېرته باغیان د جنګ له پاره تیارې وکړي؛ نو دلته جنګ من حیث المعنی موجود شو، په دې وخت کې د دې باغیانو وژل روا دي، مګر د ماشومانواو لېونو وژل یې روا نه دي او که دوی هم په جنګ کې شرکت وکړ، بیا یې وژل روا دي، مګر د امام ابو حنیفه رحمه الله له آنده: په دې صورت کې امام اختیار لري چې بندیانوي یې او که یې وژني (کاساني،۱۴۰۲هـ۱۴۱).

## ۶. هغه وسایل چې پر بنسټ یې د باغیانو وژل روا دي

د امام ابو حنیفه او امام مالک رحمهما الله له آنده د باغیانو وژل روا دي او په هغه وسایلو یې وژلای شي، چې جنګ وروباندې کېږي، لکه، غشي، لیندۍ، بمونه او داسې نور، په باغیانو باندې هغه څړځایونه او هغه اوبه چې دوی ورڅخه استفاده کوي، باید بندې شي، امام مالک رحمه الله وایې: هغه مهال چې په دوی کې ښځې او ماشومان شتون ولري باید په داسې اله باندې و نه وژل شي چې سوځول کوي(ابن قدامه،(ب ت)، ۲۱۹).

د امام شافعي او امام احمد ابن حنبل رحمهما الله په آند: د باغیانو وژل د غشیو په وسیله ناروا دي له دې پرته ټول هغه شیان چې وروباندې زخم رامنځته کېږي، یعنې په جارحه آلاتو باندې هم جایز نه دي، د هغوی محاصره کول او په هغوی باندې خوراک څښاک بندول هم جایز نه دي، مګر هغه مهال چې د مسلمانانو د وژلو او ورته د زیان رسولو هڅه وکړي ، بیاجایز دي چې دوی محاصره شي(بهوتي،۱۴۰۲،ص ۱۶۳).

**راجحه قول**

دلیلونو ته په کتو سره ویلای شو لومړی قول له دې آمله راجح دی، چې نور ورڅخه عبرت واخلي او بیا د اسلامي نظام د ړنګولو هڅه څوک ونه کړي.

### ۷. هغه مهال چې د باغیانو شمېر کم وي

که د باغیانو شمېر لږ وي او یا د هغوی تر شاه کومه لویه ډله نه وي، نه څه زیات جنګي وسایل ولري؛ نو پر هغوی باندې د بغاوت اطلاق نه کېږي (مودودي، ۱۳۶۷هـ ۱۰۴).

### ۸ د باغیانو نیول شوي کسان او له دوی سره باید په جنګ کې کوم ډول تعامل وشي؟

د باغیانو بندیان به نه وژل کېږي، د هغوی تېښته کونکي به نه تعقیبیږي او د هغوی مالونه به د ولجې په ډول نه ویشل کېږي، د دې قانون مهمه سرچینه چې علماوو پرې اعتماد کړی دی، د علي رضي الله عنه وینا او عمل دي، هغه د جمل په جګړه کې د بري له تر لاسه کولو وروسته اعلان وکړ چې تېښته کونکو ته امان ورکړئ، د خلکو کورونو ته مه ننوزئ، ښځو ته لاس مه غځوئ، که هغوی تاسې ته ښکنځل هم کوي. د علي رضي الله عنه د پوځ ځینو خلکو غوښتنه وکړه چې دښمنان او د هغوی اولادونه او ښځې دې غلامان وګرځول شي، په دې خبره هغه په غوسه شو او ویې ویل: له تاسې نه به څوک دا جراءت وکړي چې ام المومنین عایشه رضي الله عنها په خپله برخه کې واخلي؟ د باغیانو نیول شوي کسان به د دې تعهد په اخیستو سره خوشي کړای شي چې بیا به بغاوت نه کوي (مودودي، ۱۳۶۷هـ ۱۰۶).

### ۹. په اسلامي محکمو کې د باغیانو شهادت

د باغیانو شاهدي په اسلامي محکمو کې د قبلېدو وړ نه ده؛ ځکه د عادلانو پر خلاف جنګ کول فسق دی.

امام محمد رحمه الله وايي: تر هغې پورې چې هغوی جنګ ونه کړي او د عادلانو پرخلاف د عملي پاڅون مرتکب شوي نه وي، د هغوی شاهدي به قبوله کړای شي، مګر هغه مهال چې هغوی جنګ کړی وي، بيا به يې شاهدي د قبلېدو وړ نه وي(مرغيناني،۴۱۲).

### ۱۰. د باغي وينه هدر ده

که په چا کې د بغاوت د جرم شرطونه موجود شي، وينه يي هدر ده او که چا ووژلو مباح الدم شحص بې وژلی دی او جزا ورباندې نه شته، د باغي وينه د بغاوت پای ته رسېدلو پورې هدر ده، د امام ابوحنيفه رحمه الله پېروان په دې موضوع کې د نورو مذهبونو د پېروانو سره مخالف دي چې د باغيانو وينه د سرغړونې د وخت څخه که څه هم جګړه يي نه وي شروع کړي هدر ده (ابن قدامه،۲۲۰)، مګر امام مالك، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله- د دوی د ويني د هدر کېدو لپاره د جنګ شروع شرط بولي، د دوی په آند قاعده دا ده چې د باغي وينه بې د جنګ او يرغل حالت نه په نورو حالتونو کې خوندي ده(جصاص، ۱۴۱۵هـ).

### پايله

ددې څېړنې په اوږدو کې لاندې موندنو ته ورسېدم: باغيان د فقهاوو په اصطلاح هغه کسان دي چې د کوم مجوزه تاويل نه په استفادې د امام په ضد وپاريږي، د دولت د اعلی رئيس په ضد پورته شي او د خپلو غوښتنو د پر مخ بيولو له پاره منظم تحريك او قدرت ولري. هغه مهال د پاڅون کوونکو عمل بغاوت ګڼل کيږي چې راتلونکی شرطونه ورسره مل وي: د بغي موخه، تاويل، شوکت، جنګ او انقلاب.

د دولت پر ضد بغاوت کوونکي مختلف ډولونه لري چې په ټوله کې عبارت دي له: هغه چې يوازې د فساد د پاکېدلو لپاره راپاڅيدلې وي او دخپل پاڅون لپاره ورسره هيڅ شرعي

استدلال نه وي، هغه چې د نظام د نسکورولو لپاره يې پاڅون کړی وي او هيڅ کوم شرعي دليل ورسره شتون نه لري، هغه چې د کوم شرعي تاويل په اساس يې د نظام پر ضد پاڅون کړی وي؛ خو د هغوی تاويل باطل او عقيده يې فاسده وي، هغه چې د يوه عادل نظام پر ضد پا څون وکړي، په دې ټولو صورتونو کې به رعيت د نظام ترڅنګ ودريږي او د بغاوت کونکو پر وړاندې به مبارزه کوي. هغه مهال چې باغيانو نصيحت نه قبلولو او نه يې د امير اطاعت ته رجوع کوله او نه يې د توبې غوښتنه قبوله کړه؛ نو که چېرته د امام په ولکه کې وي، يا يې په داسې ځای کې وليدل چې هلته قتليدل، په دې صورت کې يې قتل واجب دی.

د يو شمېر څېړونکو له انده هغه مهال پاڅون بغاوت نه ګڼل کيږي چې د داسې يو اسلامي نظام پر وړاندې پاڅون وکړل شي چې امارت يې د زور له لارې مسلط شوی وي، حاکمان يې فاسقان او پاڅون کوونکي يې د عدالت د راوستلو لپاره راپاڅېدلې وي؛ خو دا خبره په دې ډول د مناقشې وړ ده چې د کوم امير امارت يو ځل برقرار شوی وي او د هېواد امن او نظم د هغه تر چتر لاندې روان وي، هغه که ظالم او د هغه امارت که په هر ډول قايم شوی وي، پر خلاف يې پاڅون کول حرام دي، مګر دا چې د صريح کفر مرتکب شي؛ ځکه چې نبي عليه الصلاة والسلام د ټولنې وګړي د امام پر اطاعت ترهغه مکلف ګرځولې دي، ترڅو يې ورنه ښکاره کفر نه وي ليدلې، صحابي فرمايې:(... وأن لا ننازع الأمر أهله إلّا أن تروا كفرا بواحا) ژباړه: - صحابي وايي: دنبي عليه السلام سره مو بيعت په دې وکړو...- او دا چې موږ به د مسوولو چارواکو سره جګړه نه کوو، مګر هغه مهال چې ښکاره کفر ورڅخه ووينو.

## نتېجه ګېري

د اسلامي نظام د چتر لاندې ژوند تېرول يو له مهمو او اساسي امورو څخه دي، چې بې له دې ژوند تېرول ستونزمن او يا هم ناممکن دی، مګر دا چې د ټولنې يو شمېر وګړې

د غربي او خارجي کړیو په هڅونه د اسلامي نظام پر وړاندې بغاوت ته یو شرعي او قانوني بڼه ورکوي او د اسلامي نظام په وړاندې له بغاوت څخه کار اخلي په دې څېړنه کې یې د دې ډول ناوړه جرمونو د مخنیوي لپاره د اسلامي شریعت هغه حکمونه راوړل شوي دي چې پر بنسټ یې مخنیوې او د اسلامي نظام د برقرار ساتلو لامل کېدای شي.

**وړاندیزونه**

د څېړنې په پای کې یو شمېر وړاندیزونه لرم چې په لاندې ډول دي:

هغه کسان چې د واکمن نظام څخه خفه او یا ورسره په یو شمېر مسایلو کې اختلاف لري، هیله ورنه لرم چې بغاوت ته موقع برابره نه کړي او د سولې او مذاکراتو له لارې دغه مسایل حل او دفع کړي، ترڅو امن او نظم برقرار پاتې شي.

د دې مقالې هغه لوستونکي چې په نظام کې دخیل وي له هغوی څخه مې هیله ده چې د دې ډول خلکو سره په تعامل کې هغه تګلاره خپله کړي، کومه چې زموږ سلفو اختیار کړی وه.

د ټولو لوستونکو څخه مې هیله ده چې د دې ډول بغاوت کونکو په مقابل کې د خپل واکمن نظام ملتیا وکړي او یادې ستونزې ورسره په شریکه حل کړي.

**ماخذونه**

القران الكريم.

ابن عابدين، أحمد بن عبد الغني بن عمر. ردالمحتارعلى درالمختار شرح تنويرالابصار. بيروت: دارالفكر، ١۴٢١ هـ

ابن قدامه، عبدالرحمن بن محمد بن احمد بن قدامه المقدسي. الشرح الكبير على متن المقنع. القاهرة: دارالكتاب العربي للنشر والتوزيع،(ب ت).

ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي. فتح القدير. بيروت: دار الفكر، (ب ت).

بهوتي، منصور بن يونس. كشاف القناع. بيروت. دار الفكر،١۴٠٢هـ

جصاص، ابوبكر أحمد بن علي الرازي. أحكام القرآن. څېړنه: عبد السلام محمد علي شاهين. بيروت – لبنان: دار الكتب العلمية،١۴١۵هـ

د افغانستان د جيدو علماوو هيأت. پښتو ژباړه كابلي تفسير.مدينه: د حرمينو شريفينو د خادم پاچا فهد د قران كريم چاپخونه،١۴١۴هـ

زيدان، عبدالكريم. اصول الدعوة. القدس: موسسة الرساله. مكتبة القدس، ١٩٧۵هـ

أبو داود، سليمان بن اشعث سجستاني. سنن ابي داود. أزهر: مصطفى البابي الحلبي،(ب ت).

الرملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة ابن شهاب الدين. نهاية المحتاج. بيروت: دارالفكر،١۴٠۴هـ

الزحيلي، وهبة بن مصطفى. الفقه الإسلامي وأدلته. سورية– دمشق: دار الفكر،(ب ت).

الشا فع الصغير، محمد بن ابي العباس. نهاية المحتاج. بيروت: دار الفكر، ۱۴۰۴هـ

الشربيني، محمد الخطيب.مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج. بيروت: دارالفكر، ۱۴۰۵.

شيرازى، ابراهيم بن على. المهذب فى فقه الامام الشافعي. بيروت: دار الفكر، (ب ت).

عوده، عبدالقادر. داسلامي جنايي تشريع او وضعي قوانين. ژباړن: عبدالهادي هدايت. كابل: كابل دولتي مطبعه،۱۳۴۷.

علي محمد. دعوت او بغاوت. مترجم: جانباز سرفراز. پيښور: مكتبه تطهير افكار،۱۳۹۸

كاسانى، علاوالدين بن مسعود. بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع. بيروت: دارالفكر،۱۴۰۲هـ .

مودودي، سيد ابو الأعلى. تفهيم القرآن. مترجم: قيام الدين كشاف. پيښور: الدعوة الإسلامية، ۱۳۶۷.

مرغيناني، علي بن أبي بكر بن عبدالجليل الفرغاني. الهداية في شرح بداية المبتدي.څېړنه: طلال يوسف. بيروت: دار احياء التراث العربي،(ب ت)

نووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف. المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج. بيروت: دار إحياء التراث العربي،۱۳۹۲.